نصیراحمد مهمند 2011/08/21

# د افغانستان د خپلواکۍ د بیرته اخیستلو
## د شهیدانو اوغازیانو په یاد

ویاړم چې د ګران هیواد لرغونی افغانستان د خپلواکی او آزادی د بیرته اخیستلو د لاری شهیدانو او غازیانو روح ته او هغو کسانوته چې په دغه دینی او ملی جهاد او مبارزه کی په صداقت و ایمانداری او ایثار سره په ښکاره برخه درلوده زیات درود او تحیات استوم، او همدغه راز د خپلی د زړه له کومی هیلی هغو حساسو او دردمنو زړونو ته چې د هیواد د سرلوړلی او د افغان ولس د نیکمرغی او همداسی د باتور او قهرمان پلرونو نیکونو په لار او هیله حرکت کوی او دغه موخه او هدف ته رسیدل د خپل دینی او ملی وجیبه جزء ګڼی وړاندی کوم.

نوی کاله مخکی له نن د ۱۲۹۸لمریز کال چی د ۱۹۱۹م کال سره سمون خوری د افغانستان توریالی ولس وکړای شول چی د انګریزی ښکیلاک لوی طاقت سره په یوه لنډ مهاله خو سرنوشت سازه جګړه کی د اعلیحضرت غازی امان الله خان ترقیادت لاندی خپل کورنی او بهرنی خپلواکی نړیوالوته اعلام کړی د خپلواکی د ترلاسه کولونه وروسته د هیواد د آبادی او د خلکو د آرامی د پاره ترقی غوښتونکی او ریفورمیست پاچا په فرهنګی، اقتصادی، ټولنیز عمرانی، سیاسی او د هوسا ژوند په چاروکی رفاهی پلانونه او ریفورمونه او د عصر او زمانی پر اقتضاء ګامونه پورته کړل.

د دی ورځی په ویاړ په کابل ښارکی د ارګ مانی ته مخامخ یادګاری آبدی د «مینار استقلال» په نامه جوړشول، د ښوونځیو په درسی کتابونو کی په ویاړ او غرور د افغانستان د خپلواکی د بیرته اخیستلو خبری کیدی، ملی بیرغ، ملی سرود، د خپلواکی ترانی مینځ ته راغله. په عمرانی چاروکی د کابل د چاردهی په سیمه کی د نوی ښار د دارلامان په نوم د عصری او مدرن ښار سره د ښکلی او شانداره مانی او قصرونه بنسټ اینبودل شول. د ښار د مرکز نه تر دارالامان پوری داورګادی او سپنیز خط جوړ شول. په پغمان کی د طاق ظفر یادګاری آبدی چی د غازیانو او شهیدانو نومونه هم پکښی حک او ضبط شوی سره د ښکلی او مجللی قصرونه، پارکونه، باغونه، ورزشی لوبغاړی او د سیل او تفریحی ځایونه آباد شو.

همداسی په جلال آباد، لغمان، جبل السراج، کندهار او نورو ښارونوکی یولړ تعمیرونه، فابریکی او نورو نظامی او ملکی رفاهی او تعلیمی ودانی او تاسیسات تیارشول. د ټولنیزو مناسباتو د پاره نوی قوانین، نظام نامی او مقررات د اسلامی او افغانی ټولنیزو اعتقادات او شعایرو پربنیاد د یو شمیر پوه، سترو او خبیرو دینی عالمانو لکه مولوی محمد ابراهیم کاموی، مولوی فضل الربی، مولوی عبدالحی پنحشیری او نورو جید پیژندل او منل شوی پوهانو له خوا تدوین او د افغانستان د قومونواو قبایلو د استازو د عنعنوی جرګی له تصویب او تایید وروسته نافذ شول.

د بهرنی او بین المللی په ساحه کښی دیپلوماتیک اړیکی د متقابل احترام او ګټو پر بنسټ د سفراء تبادلی په سویه ټینګښت او پراختیا وموند. افغانان او افغانستان یو ځل بیا په نړی کی مشهور او د لوړحیثیت او اعتبارخاوندان شول. بهرنی ملی او بین المللی اسلامی او غیر اسلامی ټولنه او شخصیتونه افغانانوته په درنښت او مینه کتل او یا دول، د مثال په توګه دهند نومیالی متفکر او اندیښمند جواهر لعل پنډت نهرو د خپلواکی د بیرته اخیستلو په موقع وویل:« د افغانستان د خپلواکی مشرغازی امان الله خان او افغان باتورملت په ماکی د خپلواکی غوښتنی پیاوړی کړه». دغسی د مصر لومړی ولسمشر اروابناد جمال عبدالناصر وویل: «ځما د خپلواکی غوښتنی استاذ د افغانستان خپلواک او ریفورمیست پاچا اعلیحضرت غازی امان الله خان دی.

دا وو دهیواد د خپلواکی د بیرته اخیستلو او دهغه شهیدانو اوغازیانو او اتل قهرمانانو لنډ بهیر او کارنامی چی نن تاریخ او هر افغان چی د پلرونو او نیکونو افغانی وینی او د ښکلی لرغونی افغانستان او توریالی غیرتمن ولس سره مینه د دوی په رګونوکی بهیږی، پری ویالی او د خپل سر او مال په بدل کی ساتنه او ځارنه کوی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

ډغه د ویاړ نه ډک عملونه او کارنامو چی پاس کی په لنډ ډول یاد شول ټول د لسو کالو تر شا و خوا او د افغانی لګښت او مټ تر سره شوی وو. نو هغه څه چی کیدای شی د دغی تاریخی ورځی په یادونه کی زده کړو او سرمشق وګرځوو، هغه آزادی سره مینه او د خلکو فکر او عمل یوالی، ملی وحدت او ملی پیوستون دی، ځکه پیښی چی هرڅومره سټری وی بیاهم د یوه قام او یوه ملت د معنوی قوت او ګډ تصمیم په مقابل کی کوچنی او مضمحل کیږی.
ګرانو لوستونکو وطنوالو! اجازه ړاکړی چی لږمخکی ولاړ شو :

| | |
|---|---|
| اوښکی موبهیږی ، وینــــــــی موتوییږی | زړونــه موکړیږی ، تینګ ولاړ پـــه مینه یو |
| له خوب خوږو نه لری یو،زهیر اوغلی یو | خوند او ژوند ته تلی یو، سخت لتاړ په مینه یو |

په خواشنی سره د ذکر وړ بولم چی دغه عوامل او دری مفتضح شکست او ماتی او په نړیواله کچه شرمساری او بی اعتباری انګریزی محیل او مکار استعماری امپراتوری ته د غچ او انتقام اخیستلو د پاره وهڅول چی د افغانستان د هیوادپال خلکو او د دوی محبوب مشرتا به په مقابل کی خنډونه پیدا کړی او د افغانستان د ترقی او پرمختګ لاره ونیسی بیا د شاه شجاع په څیر دخپل ایجنتانو او مزدورانو په وسیله لاس وهنه او ناکراری پیل کړی. نوی پالیسی او کړنلارو ته مخه کړ، چی عبارت د ملت په مینځ کی تفرقه اچول او د افغان په وسیله افغان وژنه وو طرح کړل. دغه لاس وهنه دومره روښانه او ملموس وو چی نه یوازی افغانان پری پوه شوی وو چی خبره د کفر او اسلام کی نده بلکی په ملک او سیمه کی ګډوډی او بی ثباتی رامینځته کول او د ترقی او پرمختګ په لاره کی خنډونه پیدا کول دی، حتی په کابل کی د بهرنی سفارتونو غړو او استازو امانی حکومت ته وړاندیز وکړ چی که ضرورت وی مونږهم د افغانانو په څنګ کی د انګریزانو پرخلاف جنګیږو چی غوره مثال یی په کابل کی د جرمنی سفارت استازی داکتر«ګرویا» په نوم و چی وویل: « دی حاضر دی د انګریزانو پرخلاف د جګړی ډګر ته ورشی »، مګر د افغانستان سیاست پوه اوغیرتمن لاربښو د غازی امان الله خان د جرمنی له استازی نه له دی دوستانه احساساتو څخه مننه وکړه او هغه ته یی ځواب ورکړ چی افغانان پخپله د ستونزو له اواری څخه وتلای شی او دښمن ته غاښ ماتوونکی ځواب ورکولای شی.
خو د خپلواکی مشر او د هیواد او خلکو صالح اوربښتین خدمتګار زامن اعلیحضرت غازی امان الله خان پدی پوه وو چی مکار او محیل دښمن د ملت ارادی ته مخامخ دریدلای نشی او د پردی ترشا د خوشباوری نه ناوړه استفادی کوی او د خپل طرح شوی شوم او ناجایز کړنلاره او نسخی پربنست د خلکو په مینځ نا باوری او نفاق زیږوی، افغان بوسیله افغان وژنی او ملک ویجاړوی. لهذا نه غوښتل چی بی ګناه خلک ووژل شی او ملک ویجاړشی، استعفاء ورکړ او د کندهار له لاری ایتالیی خواته روان شو.

پدی ترتیب د غازی امان الله خان د حکومت دوره پای ته ورسید، حکومت او اداره د نهه «۹» میاشتو د پاره د انګلیسی ګوداګی مشهورغل حبیب الله د سقاو ځوی او د هغه دار و دسته په لاس ولوید او د انګریزی پلان سره سم د سقاو ځوی د کابل شاهی ارګ مانی ته ورننوت او د پاچاهی پګړی د ځوغلو او وطن پلورو لخوا ورته وتړل شو. افغانان او افغانستان یوځل بیا د بدمرغی، بی سوادی، بی امنیتی، قتل و قتال، چور و چپاول او نور کړاونو کنډی ته وغورځید چی پایل یی افغانان او افغانستان د وخت بل نړی خوارسوربښکیلاک په لمن کی واچول شول چی د هغه تجاوز او بیا د دی هم مفتضح ماتی او نابودی بیل بحث دی او ددی تجاوز او د ماتی نه وروسته د تاریخ د ویاړونو او ناخوالوجلا باب تشکیلوی. دا چه اوس داسی بهیر را ړوان دی چی دغل نه اتل او اتل نه غل جوړیږی دا هم د محیل او مکارو ځاله او نوی دښمنانو کار دی چی پخوانی دښمنان د دوستانو په جامه کی لاس یو کړیدی.

خو په آخرکی بیاهغه څه چی په موقع او د ویلو وړ بولم، پداسی حال چی افغانان د یونا څرګنده ښادی او یو ګونګ غم په مینځ کی قرار لری او ټول ولس او ملی وطن پال افغانانو د پاره که د ننه دی او که په بهر د پریښانی او تشویش وړ ګرځیدلی دی خپلواکی او هرشی تر سوال لاندی وړی دی، هغه دا چه لس کاله کیږی چی په هیواد کی حکومت، اداره او نظام ایجاد شویدی او نړیوال بیدریغه سیاسی، اقتصادی او نظامی مرسته او ملاتړ هم ورسره شته، په خواشینی سره د دی پرځای چی د خلکو پر زخمونو پټی ولګول شی، د خلکو امنیت، سوکالی او د وران ویجاړ افغانستان د بیا رغاونی او ودانولو د پاره بنستیز او صادقانه ګامونه پورته شی، کارونو د یو پلان او پروګرام او اولویتونو پر بنا پرمخ بیول شوی برعکس ملی ګټو او مصالحو سره، ملی او تاریخی ارزښتونو او ملی شخصیتونو او ربښتینو خدمتګارانو په سرلوبی، سپکاوی او معامله کیږی.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ورځ تر ورځ د درامی د نوی پراونو پر بناء کړاونه، قتل و قتال، غلا، اختطاف، ادارای او اخلاقی فساد، ارتشا او پخپل سری او د پردیو ارادی، ایدیالوژی، فرهنګ او کلتور رواجول، د دولت ثلاثه یا دری ګونی قواوی په مینځ مفتضح رسوایی او قام شرمی او په خاصه توګه په ختیځ، لویدیځ او جنوب لودیځ سیمو پر بیګناه خلکو بیرحمانه بمبارمان او تباهی جریان لری چی د هیڅ نورم، میثاق، منطق او عدالت سره سمون نخوری او جواز نلری او د زغملووړ ندی یا امریکی سره د ستراتیژیک تړون په اړوند تر څو چی اداره د نا اهلو، فاسدو، ناکامو او معامله ګرو نه پاک او تصفیه نشی او د افغان ولس باور او یقین سره سمون نلری چی د افغانانو او هیواد ګټی او مصلحونه په نظر کی نیول کیږی او پکښی خوندی وی.

بناءً پدی حال سره نن له هر وخت نه زیات د اصیل اوهیواد پال افغانانو ایثار او فداکاری، ملی پخلاینی، ملی پیوستون او حرکت ته ضرورت احساس کیږی چی سره یوشی، لاس ورکړی چی د پردیو او د دوی بدنامو بی خاصیته کورنی ایجنتانو لاس لنډ شی او افغانان د ملی وګړو په مرسته پخپله خپل هیواد او ملی نظام او سیستم جوړ کړی

ویجاړ هیواد زمونږنه غواړی اومونږ باندی غږ کوی چی :

افغانانوستاسو کوریم ، پردوته می پری نږدی زه ویجاړ افغانستان یم، ورانیدو ته می پری نږدی

په آخر کی وایم :

دلته هرڅوک چی اوسیږی بس افغان دی تور او سپین پیداکول پکښی ملی تاوان دی
لوی هیوادبه په ملی وحدت جوړیـــږی دا زمونږ عقیده دا مـــــــــو ایمان دی

پای



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ